# دیورین ګاګارین لنډ ژوندلیک

## ژباړونکی : حبیب الله غمخور

**یوري ګاګارین د نړۍ لمړنی کیهانورد**



یوري ګاګارین دنړۍ لمړنی کیهانورد

درنو هیوادوالو پرون داپریل۱۲ مه فضاته دپرواز نړیواله ورځ وه .

ما د۶۴ کاله وړاندي فضاته دلمړنی انسان یوري ګاګارین دنړۍ لمړنی کیهانور د ژوندلیک څوکاله پخواله روسی ژبې نه پښتوته ژباړلی ترڅو خپلي مورنۍ ژبې ته یو خدمت وي او هغه وخت مې ویب پاڼوته لیږلی وو .خو اوس چي ګورم ورک دی، په پښتنو کي متاسفانه دا معمول دي چي ښه ډیرژر ورکیږي. څکه یې ددې نړیوالی ورځې په یاد یې دلته پدې پاڼه کي نشروم، امید واریم د معلوماتو ترلاسه کونکي یې ولي.

۶۴ کاله وړاندي انسان کیهان ته سفر وکړ او د لومړۍ ځل لپاره د ځمکې پرشاوخوا راوګرځېد

**د پیل خبره :**

پدې ورځوکي د یورګاګارین دلومړنی پرواز دیاد تازه کېدو په اړوندپه روسی مطبوعاتوکي یوپه بل پسې جالب مطالب خپرېږي .دهغوپه لوستلودافکرراسره پیدا سوچي ددې نومیالي اوپه نړیواله کچه مشهور هوا باز، هغه څوک چي دلمړی ځل لپاره ئې په هوایي بېړی کښې کیهان ته سفروکړ او د ځمکې دکرې پر شاوخوا راوګرځېد په انټرنت کښې په پښتو ژبه کوم معلومات سته اوکنه؟ یابه زه د کمپیوټر له استعمال سره پوره بلد نه یم او یاخو دا ده چي په پښتو ژبه دیوري ګاګارین په هکله هیڅ شی نسته . د دې لپاره چي په پښتو ژبه کښې هم دهغه په اړوند یوڅه معلومات وي ، دیوري

ګاګارین لنډ ژوند لیک مي راوژباړه او د پښتو ژبې درنولوستو نکوته يې ډالی کوم. پدې بهانه غواړم څرګنده کړم په هراندازه چې پښتوژبې ته له نوروژبو ژباړنې وشي په هغه اندازه داژبه غني کیږي .
له نېکه مرغه اوس چې زموږ یوزیات شمیرخوانان چې دښه قلم خاوندان دي او په بهرنیو ژبوپوهېږي له هغوی نه غوښتنه کوو چي وخت عبث تیرنکړي اوخپلې مورنۍ ژبې ته له نوروژبونه هرډول مطالب چې دوي ئې زموږ ژبې ته ګټوربولي راوژباړي .
د یوري ګاګارین لنډ ژوند لیک
لومړنۍ هوابازیوري ګاګارین د ۱۹۳۴ز کال دمارچ پر ۹ دشوروي اتحاد دسمولنسک دویلایت د ګژاتسک دښار دکلوشینو د کلي دیوه دهقان اوغریب سړی په کورنۍ کي دنیاته سترګي پرانستلې . د ګژاتسک ښارپه ۱۹٦۸کال کي دګاګارین په نامه ونومول سو.
ګاګارین پلارالکسي ایوانویچ ګاګارین( ۱۹۰۲-۱۹۷۳) Алексей Иванович Гагарин اومورئي آنا تیموفیونا ماتیوا ( Анна Тимофеевна Матвеева۱۹۰۳-۱۹۸۴) دواړوپه کلخوزکي ددهقان په تو ګه کارکاوه .
ګاګارین یو وروراودوې خوندي درلودې دګاګارین پلار ډیر غریب وو،توله ورځ په دهقانی مصروف وول همدې امله دګاګارین روزنه دهغه دمشري خورپر غاړه وه .
ددوهمې نړیوالي جګړې په دوام کي دګاګارین کورنۍ هم لکه دشوروی نوروګړي داقتصادي ستونزو سره مخامخ وه . ددي ستونزوترڅنګ دهغه ورور اوخور جرمني نازیانوپسله هغه چي ددوي داوسېدوسیمه ئې ونیوله داجباري کارلپاره په زورجرمني ته بوتلل اوددوهمې نړۍوالي جګړې تر پایه یوري هلته پاته سول،دجګړې تر پاي ته رسېدو وروسته خپل هیوادته راستانه شول .
یوري ګاګارین په ۱۹۴۱ کال دسپتمبرپه لومړی ټېته ښوونځۍ ته شامل سو،مګردهمدې کال داکتوبرپر ۱۲ جرمنیانودغه سیمه ونیوله اوښوونځۍ وتړل سوې .
دوه نیم کاله ګاګارین دتعلیم نه محروم پاته سو، پسله هغه چي کله شوروي لښکروپه ۱۹۴۳ کال داپریل پر ۹ دغه سېمه له هټلری لښکرونه ازاده کړه دلته دوباره ښوونځۍ فعالي اوګاګارین هم ښوونځۍ ته ولاړ اودرس ویلوئي پیل کړ .په ۱۹۴۵ کال ئې کورنۍ دګژاتسک ښارته راکډه سوله ،چیري چي ګاګارین دښونځۍ شپږ م ټولګی پاي ته ورسوله . البته ګاګارین د ۱۹۴۹ز کال دمی په میاشت کي ابتدائیی تعلیمات پاي ته ورسول .
یوري ګاګارین له ماشوم توب نه دالوتکوسره مینه درلوده اوتل به ئې دالوتکومډلونه رسمول اود الوتکوپه هکله ئې کتابونه لوستل .دیوري ګاګارین درياضي اوفزیک ښوونکی هم ددوهمې نړیوالي جګړې په وخت کي پیلوټ وو. ممکن دهغه سره اړېکو هم دپیلوټی سره دهغه پرعلاقې او هڅومثبت تاثیر ښندلی وي.
د۱۹۴۹ کال دسپتمبرپر ۳۰ مه دمسکوولایت د لوبیرځ په ښارکي دځوانوکسب ګرو لسم لمبر تخنیکم ته شامل سوچي دهغه سره یوځاي ئې دشپې لخوا دآهنګری تخنیکم کي هم په زده کړو مصروف وواوپه ۲۱۹۵۰ کال په عالي درجه ترې فارغ سو .یوري ګاګارین په ۱۹۵۱ کال هوایي خدماتوتخنیکم هم خلاص کړله .
۱۹۵۱ز کال داګست په میاشت کي دسراتف دښار صنعتی تخنیکم ته شامل سواود۱۹۵۴ کال داکتوبرپر ۲۵ مه دلومړی ځل لپاره دساراتف هوایي کلوب ته لارپیداکړه .په ۱۹۵۵کال هغه په عالی درجه تعلیم خلاص کړاو دلومړی ځل لپاره ئې په یاک Як-18۱۸ الوتکه کښې مستقل پرواز وکړ. هغه په ۱۹٦ پروازوکي ۴۲ ساعته او۲۳ دقیقي پروازکړې دی .

د۱۹۵۵ کال داکتوبرپر ۲۷ هغه اردوته جزب شواودپیلوټۍ دمسکي عالي زده کړولپاره دارینبورگ په ښارکي دچکالوفسک په هوايي تخنیکم کښي زده کړه پیل کړه .یورگاګارین دغه تعلیمي موسسه هم د۱۹۵۷ کال داکتوبرپر ۲۵ په عالي درجه پاي ته ورسوله اوترفراغت وروسته دوه کاله دشمالي بحرى قواووپه هوايي ۱۲۲ نمبرغونډکي دپوځۍ بم اچونکو میگ ۱۵۶ایس ((МиГ-15бис)) الوتکي دپیلوټ په توگه دنده سرته ورسول . یوري گاگارین په ۱۹۵۹ کال نږدې ۲۶۵ساعته پروازوکړ ی دی .

یوري گاگارین په ۱۹۵۷کال د دیوې روسی انجلی ((والنتینا ایوانفني گُریاچوا)) Валентине Ивановне Горячевой. سره واده وکړ .

یوري گاگارین په ۱۹۵۹ کال ددسمبرپر ۹ دشوروي اتحاددکسمنافتانو(فضائي پیلوټانو) ډلې کښي دشاملېدولپاره خپله عریضه اړونده مقاماتوته ورکړه چي پسله یوې اونۍ دهغه غوښتنې ته مثبت جواب وویل سواویوري گاگارین دروغتیايي معیناتولپاره مرکزی شفاخانې ته ولېږ ل سو . تر اړینو روغتیايي معایناتواوڅېړنو وروسته یوري گاگارین دفضایي پروازودپیلوټانوډلې ته شامل شو،داهغه ډله پیلوټان وه چي فضاته دهوايي بېړۍ پوسیله دپروازلپاره تربیه کېدل .ژ په ۱۹۶۰ ز کال دمارچ پر دریمه دشوروي قواوودعمومي قوماندان دامرله لخې هغه دهغو یولسو کاندیدانوپه جمله کي شامل سوکوم چي فضاته دهوايي بېړۍ پوسیله دالوتنې لپاره ترروزنې لاندي نیول سوی وه اودهمدې کال دمارچ پر ۲۵ مه پروازته دامادہ گۍ لپاره دنوی کارځاي ته ولاړ اوهلته تر دوامداره معینې زده کړې اوتحقیقاتي کارونووروسته دلومړني فضانورد(هواباز) یاکسمنافت په توگه وټاکل سو.

یوري گاگارین لمړنۍ انسان وچي په ۱۹۶۱ زکال داپریل پر ۱۲ ئې دواستوک په نوم هوايي بېړۍ په(Vostok 3KA-2) لمربېړۍ کي د((سروی درخته)) په مستعارنامه کیهان ته دبایکانورله توغونکی ستېشن څخه وتوغول سو. یوري گاگارین دمځکې پر شاوخوایوساعت او۴۸ دقیقې پروازوته دوام ورکړ دورسپارل شوی دندې دسرته رسولونه وروسته په بری سره مځکې ته روغ رمټ راستون شو .

هغه د۲۷ کالو وو چي فضاته ئي سفر وکړ کله چي بېرته راوگرځېد دشوروي ولس دتودهرکلی سره مخامخ شواوهغه ئي دخپل هیواد دقهرمان په توگه دژوندتر ورستیو شېبوپوري نازاوه .

یوري گاگارین دژوند تر وروستۍ شېبودشوروي اتحاددعالي شوراافتخاري غړیتوب درلود.

همدا ډول د۱۹۶۳ کال ددسمبرپر شلمه دفضایي تحقیقاتودپیلوټانو (کوسمنافت ) دروزلودمرکزدرئیس دمرستیال په توگه وټاکل سو. په عین وخت کي د((سیوز)) دفضایی بېړۍ دپیلوټ ولادمیر میخاییلویچ کماروف چي ټاکل سوې وه د ۱۹۶۷ کال داپریل پر ۲۳ ئې فضاته پروازوکړي ددوبلیور پیلوټ په توگه اړین تمرینات ترسره کول .

سفرونه :

یوري گاگارین له فضانه په بری سره مځکې ته په راستنېدوسره نه یوازي په شوروي اتحادبلکي په ټوله نړۍ کي مشهورسو،دېخواني شوروي اتحادپر ښارو اوجمهوریتوسربېره ئي دنړۍ زیاتوهیوادوته لکه ایتالیا، چکسلواکیا،انگلستان ، آلمان، هنگري ، فرانسې، بلغاریا، گانا، کوبا، مکزیك، برازیل، ناروي، هند، مصر، لیبریا، کاناډا وجاپان ته سفرونه وکړه ، پدغو ښارو او هیوادو کښي دعاموخلکو، پوهانو،سیاسي اوټولنیزوسازمانونولخواپه عالي ښه هرکلی وسو.

ستاینه : د۱۹۶۱ کال داپریل د۱۴ دشوروي اتحاددعالي شورادفرمان له مخې دشوري دقهرمان لقب ورکړه شو .

په ۱۹۶۱ ز کال دچکسلواکیا دولسمشردفرمان له مخې دسوسیالستي کارقهرمان لقب ورکړه سو .په همدې کال داپریل پر ۲۸ د بلغاریا د وزیرانو شورا د فرمان له مخې د سوسیالستي کار د قهرمان لقب ترلاسه کړ، همدا ډول دویتنام

ددموکراتیک جمهوریت دکاردقهرمانی لقب ترلاسه کړ.په ۱۹۶۱ داپریل پر ۱۴ دشوروي اتحاد دعالي شورادمشرتابه لخوادلنین عالي نښان ،دهمدې کال داپریل پر۲۳ مه دبلغاریا هیواددګیورګي دیمیتریف نښا ن ورکړه سو . همدا ډول ئې دپولنډ،کیوبا، هنګري ،اوپه ۱۹۶۲ زکال دجنوري پر ۳۱ دعربی متحده عماراتو، لیبریا،شرقی المان ، اندونزیا هیوادودمشرتابه لخواپه عالي نښانو او مډالو ونازول شو، دا ډول هغه ته دفنلنډ دکمونست ګوند دمرکزی کمېټې طلایي مډال ورکړه سو. په ۱۹۶۱ دجولاي دمیاشتي په ۱۱ دبریتانیا دنړیوالو اړیکودټولنې لخوادطلاپه مډال ویاړ سوی دي .
همدا ډول یوري ګاګارین ته د اطریش ، سویډن ،ایتالیا ،فرانسي ،هندوستان اودنړۍ له یوشمیرهیوادو اوهمدا ډول دشوروی اتحاد د مختلفو سازمانو او ډله زیزو رسنیو لخواپه عالي مډالو اونښانوویاړل سوئ دی .
د یادولو وړ ده چي په پخواني شوروي اودنړۍ په یوشمېرهیوادوکي میدانونه ،واټونه اوکوڅې دګاګارین په نامه نومول شوې دي .همدا ډول دبلغاریا ددرو ښارو،په یونان کي دافین دښار،کیپر کښي دوښارو،فرانسې اوچکسلواکیا په هیوادوکي د دغو هیوادو د یوه ښارافتخاري اوسېدونکی (تابعیت) ویاړ او همد ډول دمصر هیواد دقاهرې اوالکساندرې دښارد دروازو طلایي کیلي ورکړل سوې ده .
په ټوله نړۍ کښي شاوخوا ۳۶ مختلفې علمي موسسې میدانونه او واټونه ،۳۷دښارو کوڅې ،۱۶ پارکونه ،په مسکو ښارکي دمیټرودوې استګاوي (تم ځاي ) او ۱۷ ښوونځی ،کلتوري مرکزونه دیوري ګاګارین په نامه نومول سوی دي .
د۱۹۶۱ کال نه تر ۱۹۶۸ کال دفبروري تر ۱۷ مي پوري یوري ګاګارین دنیکولاي ایګور ږوکوفسکي (( H. E. Жуковского)) په نامه پوځی هوایي انجینری اکاډمی کښي تحصیل وکړ او د طلایي مډال په ترلاسه کولوسره ئي دغه اکاډمي پاي ته ورسول . یوري ګاګارین د۱۹ ۶۸ کال د مارچ پر ۲۷ دفضایي الوتنې لپاره په میګ ۱۵ الوتکه کښي دتمرین په وخت کي دهوایي حادثې له مخې چي الوتکه راولویدل له خپل مربی سره یوځاي له منځ ولاړ اواوجسد ئې د کرملین دمانۍ بغل ته ښخ سو.
دیوري ګاګارین دلومړني پروازنه سږکال داپریل په ۱۲ پنځوس کاله پوره کېږي، د دې ورځې اویوري ګاګارین په یاداودرناوي به په روسیه کښي ځانګړې غونډې جوړي شي.
یوري ګاګارین دروسې د خلکو د ویاړلو افتخاراتو څخه شمېرل کیږي او د هغه خاطره تل ددوي په زړونوکي پاته ده.
همدا اوس هم چي کله یوپیلوټ هواته پروازکوي دیوري ګاګارین دغه جمله (( په یې خلې)) یعني ولاړو له ځان سره تکراروي . روسان یوري ګاګارین دخپل هیواد ستر افتخاربولي اوپه نامه ئې ویاړي .
له همدې ځاي اوهمدې ډول دستګاه په مټ یوري ګاګارین د۱۹۶۱ ز کال داپریل پر ۱۲ فضاته وتوغول سو.



داهغه سفينه (سپوږمکۍ )ده چي يوري گاگارين په هغې کښي فضاتر پروازوکړاودمځکې دکرې پر شاوخواراوگرځېد.

Спускаемый аппарат, тот самый, на котором Юрий Гагарин
.облетел земной шар и вошел в плотные слои атмосферы
Как видно на фотографии, редактор ХРОНОСа Вячеслав Румянцев
.буквально прикоснулся к этой космической святыни
.Город Королёв, РКК "Энергия", Музей космонавтики
.Фото Сергея Горбунова



.Таков интерьер спускаемого аппарата

.В центре виден иллюминатор

دبېړۍ داخلي برخه دلته ښه ښکاري

هغه دومره ونازول سوچي دشوروی په ټولوښاروادنړی په یوشمیر هیوادوکي دهغه په عکس ښکلي سوی پوستي ټکټونه چاپ سول .




دپوستي ټکټ يوه بېلگه

Почтовый конверт, посвящённый

Ю. Гагарину




ترکمنستان کي دهغه عکس په قالينه کښي واوبدل سواوهغه ته ډالى سو .

Туркменский ковёр-портрет Ю. А. Гагарина

د يوري ګاګارين فضا ته د سفر مستند فلم

af.www.dawatmedia24.com